# اصلاح الامة

د امربالمعروف، نهی عن المنکر
او شکایتونو اورېدلو وزارت پنځلس ورځنۍ خپرونه




## امربالمعروف د ټولنیز سمون مؤثره لار

ترویج و تقویت امر به معروف، متضمن جامعه و کشور مترقی، متمدن و عاری از بی عدالتی است.

امربالمعروف او نهی عن المنکر د ټولنیز سمون، صمیمیت، همکاری او د یو بل د لاسنیوني تر ټولو مؤثره لار


د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - ۲۰۲۱ میلادي | د چاپ نېټه: رمضان المبارک - ، کال ۱۴۴۳ هجري قمري | لومړۍ ګڼه


سرمقاله

با آغاز دورهٔ تازه در افغانستان و پیروزی امارت اسلامی، انکشاف های محسوسی در سطوح مختلف حیات اجتماعی در حال شکل گیری است و از آن جاییکه روشن سازی اذهان عامهٔ شهروندان، ایجاد و تقویت ساختارهای معنوی، یک امر ضروری پنداشته میشود و این مأمول جز از طریق طبع و تکثیر کتُب، مجلات، اخبار و سایر رسانه های همگانی در کشور امکان پذیر نخواهد بود؛ بدین ملحوظ ریاست اطلاعات و ارتباط عامهٔ وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات در کنار سایر دستاوردها و فعالیت های رسانه ای خویش؛ در صدد ایجاد نشریهٔ تحت عنوان: بلنه (دعوت) شدند و از خلال این اقدام نیک دست اندر کاران و مسوولین نشریهٔ متذکره از الله تعالی (جل جلاله) مسئلت می نمایند که ما را در ادامهٔ این راه، یاری دهد و به امری که محبت و رضای اوست، توفیق عنایت بفرماید تا در شرایط دشوار کنونی از طریق پخش و نشر مقالات علمی و موضوعات دینی، کشور را از این ورطه های مهلک و نابود کننده تا اندازهٔ نجات دهیم و با توجه به اصول صداقت در کار، پابندی به ارزشهای ملی، رشد فکری (روشنگری)، تقویت فرهنگ اصیل اسلامی و افغانی ریشه کن ساختن تعصبات، وطن دوستی و رفاه عامه، به پیش خواهیم رفت.

به این لحاظ تأسیس و ایجاد چنین اخبار جهت به دست آوردن این مأمول امر ضروری و لازمی پنداشته می شود و صرفاً مجلهٔ تقوا و صفحات اجتماعی ویب سایت، وتساپ و فیسبوک برای مرفوع ساختن عطش فرهنگی و دینی شهروندان از آدرس وزارت کلیدی (امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات) کافی پنداشته نمیشد، بنا براین، با گذشت ایام بار مسوولیت های طباعتی و فرهنگی ریاست اطلاعات و ارتباط عامه در حال سنگین تر شدن میباشد و به اهتمام و توجه خاص محترم (شیخ القرآن و الحدیث مولوی محمد خالد حنفی) که هم اکنون افتخار رهبری این وزارت را بر عهده دارند، رسانه های چاپی وزارت اساس گذاشته شد. با درک این مسؤولیت، کارمندان و مسوولین مجلهٔ تقوا و جریدهٔ دعوت (بلنه)، به نوبهٔ خویش سعی و تلاش به خرج خواهند داد تا در این مسیر مبارک سهیم شوند. اخبار دعوت (بلنه)، یک هفته نامه خبری و علمی میباشد که جهت ادای مسؤولیت های دینی و وظیفوی مسؤلین ادارات امربالمعروف در قبال مردم مسلمان افغانستان به صورت خاص و امت اسلامی به صورت عام، از طریق طبع مقالات، اخبار و نوشته های ناب فرهنگی و دینی و با حمل مسؤولیت های بزرگ میهنی جهت خدمت به ملت، کشور و جهان اسلام، می پردازد و در نهایت تلاش می ورزد تا جایگاه خویش را بحیث یک جریدهٔ مطرح در راستای تحقق ارزشهای اسلامی تثبیت نماید.

**با عرض حرمت**
**ادارهٔ نشریهٔ اصلاح الامة**

## د امیرالمؤمنین د حکم پر اساس، د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اوریدلو وزارت رهبري او د مرکزي رئیسانو پیژندګلوي

لومړۍ برخه

۱- د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اوریدو وزارت سرپرست، شیخ محمد خالد حنفي د ملک قومندان حبیب الله زوی؛
۲- په نظامي برخه کې معین، عبدالرحمن منیر د ملا جمعه خان زوی؛
۳-د دفتر عمومي رئیس مولوي محمد اسحاق حکیم د مولوي فیض محمد زوی؛
۴- د اسناد او ارتباط رئیس، مولوي محمد یوسف د حاجي محمد عمر زوی؛
۵- د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس، مولوي محمد صادق عاکف د بهرام جان زوی؛
٦- د داخلي تفتیش رئیس، مولوي فضل الربي فضلي د ملا روزالدین زوی؛
۷- د تقنین او پالیسي رئیس مولوي محب الله مخلص د عبدالروف زوی؛
۸- د محتسبینو د اصلاح او روزنې رئیس، مولانا محمد یحیی عارف د قاري محمد اسحاق زوی؛
۹- په نظامي برخه کې د ازاله منکرات رئیس، مولوي راز محمد د عبد محمد زوی؛
۱۰- د کابل ښار د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اوریدلو رئیس، مولوي معلم جان د حاضر محمد زوی؛
۱۱- د نظارت او ارزیابي رئیس، مولوي مخدوم غلام الله حقاني د مخدوم جماالدین زوی؛
۱۲- د سمع او تصنیف شکایات رئیس، صدیق الله د عبدالحبیب زوی
۱۳- شکایتونو تحلیل او بررسي رئیس؛ فضل الرحمن د حضرت سلطان محمد آغا زوی؛
۱۴- د ارجاع، پیگیری او د مصوباتو تطبیق رئیس، حجت الله د صبغت الله زوی؛
۱۵- د مالي او اداري عمومي رئیس، مولوي حمید الله د بادام گل زوی؛
۱٦- د مالي او حسابي رئیس، مولوي قاری شریف الله د نصرالله زوی؛
۱۷- د تدارکاتو رئیس، مولوي محمد امین د خال محمد زوی؛
۱۸- د خدماتو رئیس، محمد شاه د محمد ضمیر زوی؛
۱۹- د منابع بشری رئیس، نصرت ولي د ډاکټر عبدالوکیل زوی؛
۲۰- د تکنالوژي او معلوماتو رئیس، قاري شاهد الله د کندل زوی؛
۲۱- د ولایتونو همغږي رئیس، مولوي حبیب الرحمن منصور د حاجي جلاالدین زوی .


د ولایتي رئیسانو پیژندګلوي په دوهمه ګڼه...


## د امر بالمعروف وزارت اساسي لاسته راوړنې

د افغانستان اسلامي امارت

د امربالمعروف ، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت

۱۴۴۳ هجري قمري

د اسلامي امارت له راتګ څخه وروسته د حکومت د رهبري له لزوم دید سره سم د حکومت په چوکاټ کې امر باالمعروف او نهي عن المنکر وزارت را منځ ته شو ، تر څو د اسلامي شریعت سره سم د ټولنې لپاره کار وکړي.


پاتې په ۲ مخ


## آغاز دروس ترجمه و تفسیر قرآنکریم در وزارت امربالمعروف


پاتې په ۲ مخ





## په امربالمعروف وزارت کې د دعوت او ارشاد رئیس وټاکل شو

مولوي عبدالحکیم حقاني د امر بالمعروف نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدو وزارت کې د ارشاد و دعوت رئیس وټاکل شو. د امر بالمعروف نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدو وزارت کې دعوت ارشاد رئیس د ټاکل کیدو په مورد ناسته رابلل شوې وه ناسته د یاد وزارت د غونډو تالار کې ترسره شوه چې په ناسته کې د یاد وزارت ډېری کارمندانو ګډون درلود .

ناستې رئیس دفتر ته مولوي محمد اسحاق حکیمي پخپلو خبرو کې وویل:

د اسلامي نظام د راتګ لپاره افغانانو بې شمېره قرباني ورکړې اوس له موږ نه هغه قرباني او دا نظام ساتنه غواړي نو په موږ لازمه ده چې د نظام ساتنه وکړو.

چې په خبره یې: د یو نظام ساتنه هغه ده چې کار اهل کار ته وسپارل شي او په دولتي ادارو کې له واسطه بازۍ او نورو ناروا عملونو نه ځانونه وساتل شي چې په خبره یې مو ږ همدې اصل ته په کتو پر ځای او غوره گمارنه کړې چې ښاغلی مولوي عبدالحکیم حقاني له تېر تحریک نه شروع د اسلامي امارت هر رنګه اصولو او قوانینو ته ژمن پاته شوی چې په دې لاره کې یې بې شمیره قرباني ورکړې.

نوموړي همدا راز وویل:

ده همدا راز د امربالمعروف او نورو وزارتونو په کارمندانو غږ وکړ چې دیاد کاري ټیم مرسته او همکاري وکړي چې د امر بالمعروف کارمندانو ورته د هر ډول مرستې او همکاري ډاډ ورکړ.

یاد کسان به په وزارتونو کې اصلاحي کارونه ترسره کوي .

دا په داسې حال کې ده چې درئیس الوزرا د حکم پر اساس د هیواد په ټولو وزارتونو کې د اصلاح او سمون په موخه یاد مسؤلین ټاکل کېږي چې په وزارتونو کې د منکراتو مخه ونیسي- او مسؤلین خپلو کارونو ته متوجه کړي.

## حل منازعه و آشتی میان دو قوم در تخار

مسوولان امربالمعروف ولایت تخار از بهر جلوگیری نزاع قومی و خون ریزی به روستای های چپه خانه و آقچر علیا رفته و قضیه را بعد از بررسی حل و فصل نمودند. همچنان به اساس یک گزارش دیگر در ولسوالی رستاق یک قضیه جنجالی که از مدیریت حقوق به مدیریت امر بالمعروف این ولسوالی مواصلت ورزیده بود به همکاری محتسبین و آمر امربالمعروف این ولسوالی حل و فصل گردید.

**اسلامي دولت د دریو شیانو په ثابت ساتلو سره ثابت پاتې کیږي: د لمانځه قایمول ، د زکات اخیستل او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د حکم تطبیقول. {الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ}. یعنې: هغه چا ته چې موږ په ځمکه کې واک ورکړو نو لمونځونه قایموي ، زکات ورکوي ، په نیکو کارونو امر کوي او له بدو کارونو منع کوي.**

شیخ عبدالعزیز الطریفي

# اوس نو د دعوت وار دی

د تاریخ په اوږدو کې چې هر وخت مجاهدینو ښارونه فتحه کول؛ نو سمدستي به دیني پوهان او داعیان مفتوحه سیمو ته ننوتل، او خپل سپېڅلي دین ته به یې دعوت پیلاوه. د همدې مثبتې کړنلارې برکت وو؛ چې د ډېرو مفتوحه سیمو اصلي اوسېدونکي داسلام په مبارك دین مشرف کېدل، او په خپله یې د اسلام د مبارك دعوت ملګرتیا پیلوله. زه یو مثال درته وړاندې کوم: کله چې سلطان شهاب الدین غوري د هند زیاتې برخې فتحه کړې؛ نو شیخ معین الدین چشتي (رح) د خلکو د زړونو د فتحه کولو هڅې پیل کړې، چې په نتیجه کې یې دومره خلك د زړه له تله مسلمانان شول چې شمېرل یې سخت دي. اوس یې تقریبا اتیا میلونه مسلمانان په پاکستان او څلوېښت ملیونه په هند کې اوسي. خبره به نه اوږدوم. راځئ اوس د دیني پوهانو او داعیانو کار زموږ په غاړه دی. مجاهدینو داسې قرباني ورکړې؛ چې جهان ورته ګوته په غاښ پاتې شو. فدایانو د دین د ساتنې په موخه خپلې نازکې ځوانۍ د بارودو خوراك کړې؛ او موږ په آرامه دعوت نشو کولی؟



راځئ ملګرو! مجاهدینو په ټول هیواد کې د دعوت لپاره زمینه مساعده کړي؛ راځئ چې د اسلام او امارت مخالفین په دین او شریعت پوه کړو؛ راځئ چې زړونه یې فتحه کړو. ګمان مه کوئ! چې سم به نه شي؛ تجربو ثابته کړې چې په اغېزمن دعوت ډېرو مخالفینو له مخالفته لاس اخیستئ.

لیکوال: ابوبصیر حنفي

# د امر بالمعروف وزارت اساسي...

په لومړیو کې د دې وزارت اړوند د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست فعال شو، تر څو د وزارت او خلکو ترمنځ اړیکې جوړې او کورنیو، بهرنیو رسنیو سؤالونو ته جواب ورکړي.

په همدې اساس د خلکو د امنیت د لا ښه ټینګښت او په ځانګړې ډول د داعش له شره د ساتلو او د مذهبونو د یووالي په خاطر یاد وزارت په لومړي ګام کې د یوې برنامې له لارې د هیواد له ګوټ، ګوټ څخه سلفي علماؤ له یوې ډلې سره په کابل کې ولیدل د هغوی ستونزې یې واورېدې او هغوی هم خپله بېزاري له داعش څخه اعلان کړه او له اسلامي امارت سره یې د همکاري ډاډ ورکړ.

په یو بل اقدام کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د رهبرۍ استازو د بلخ، کندز، سمنګان ولایتونو کې د ټولنې له مختلفو اقشارو سره وکتل، د امر بالمعروف وزیر د سمنګانو ولایت کې چې علماؤ یوې لویې ډلې ته وینا کوله وویل: مجاهدینو نظام لاسته راوړ، اوس نو ستاسو دنده ده چې د اسلامي شریعت په تطبیقولو کې وروسته پاته نشئ، پر ښو امر وکړئ او له بدو منعه، د همدې چارې د عملي کولو لپاره مې ۱۰۰ تنه علماؤ وګمارل.

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت رهبرۍ، په یو بل اقدام کې د لویې جرګې په خیمه کې له تجارانو، دیني عالمانو، د ګذر وکیلانو او کسبه کارانو سره غونډه وکړه، له هغوی څخه یې د سالمې ټولنې په رغولو کې د همکارۍ غوښتنه وکړه، په غونډه کې د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزیر د ګذر وکیلانو څخه وغوښتل چې د شریعت خلاف کړنو د لیدلو په صورت کې خپله ایماني او وجداني دنده سرته ورسوي او امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت سره همکاري وکړي.

د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت سرپرست د کابل ولایت، ښاري محتسبینو سره ولیدل، هغوی څخه یې وغوښتل چې خپله دنده "په ښو امر او له بدو منع" په پوره حوصله او بردباري سرته ورسوي او په دې باید شکر کوونکې وي، چې د الله تعالي له لوري د امربالمعروف او نهي عن المنکر غوره کړنې د تعمیل لپاره انتخاب شوي دي.

شیخ محمد خالد حنفي له محتسبینو سره غونډه کې د اشغال پایلو ته په اشارې وویل: پوره شل کاله ناټو او غربیانو دلته حکومت وکړ، او د هغوی مفکوره پر خلکو تحمیل شوه، اوس د دې وخت دی، چې ټولنه اصلاح شي، په اوسنیو شرایطو کې امر بالمعروف وزرات د دین ترجمان دی او د ټولې نړۍ ورته نظر دی.

همداسې د لومړنیو توکو د بیو د لوړېدو وخت کې، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت کارکوونکو د لېدنو په ترڅ کې، په ځانګړې ډول د محتسبینو له لورې، کابل ښار کې د هټیوالو څخه وغوښتل، چې احتکار ونکړي، ځکه احتکار د اسلامي شریعت خلاف عمل دی، او د منکراتو څخه ګڼل کیږي.

د پورتنیو موضوعات تر څنګ د امر بالمعروف، نهي عن المنکر، او شکایتونو اورېدو وزارت د ازالې منکراتو او تربیت او اصلاح ریاستونو، د مجاهدینو د تربیت او اصلاح لپاره، هغوی هغه فرمانونو ته متوجه کول چې د اسلامي امارت رهبرۍ لخوا صادریږي، همدا شان په ټولو ولایتونو او کابل کې د هرې امنیتي حوزې لپاره لس، لس ،تنه محتسبین د خلکو د اصلاح او ټولنې د سمون لپاره وټاکل شول، او هغوی په خپلو ملاقاتونو کې د اسلامي امارت له مجاهدینو څخه وغوښتل چې د خلکو سره نیك چلند وکړي او خپل صورت او سیرت په سنتو برابر کړي.

په دې لیدنو کې د تربیت او اصلاح رئیس محتسبینو ته وویل: د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د محتسبیتو لپاره طرزالعمل مشخص کړی دی، محتسبین اجازه نه لري، چې

پاتې په ۳ مخ

# ایا ته (انسانه!) ګومان کوې چې یو وړوکی جسم یې؟!

نه، دا سې نه ده ته د مخلوقاتو مجموعه یې، د یو څو لحضو لپار سر نه تر پایه خپل ځان ته ځیر شه، جوړښت، حسن، عقل، حواس، اراده، قوت، لذت، خواهش، د اندامونو ارادي حراکات، سرسري مطالعه کړه، خامخا به ځان درته د لویو صفاتو مجموعه ښکاره شي، طبي او فلسفي څېړنې خو له پېړیو رواني دي تر اوسه انتها ته نه دي رسیدلي، بیا لږ د کائناتو افاقي او زمیني نظام ته وګوره د قدرتونو نظارې دې چې و کتلې بیا په دې سوچ وکړه چې د دې ټولو مخدوم ته یې، له دې عمقه چې خبر شوې، پوه شه چې دا منظم نظام ستا لپاره پیدا شوی، او ته د لویو صفاتو مجموعه د یو اهم کار او عاقبت لپاره خلق شوی یې، ځکه ستا دا کمالي وجود د څو مختصرکلونو لپاره د کائناتو مظهر کې ظاهریدل عقل کوم کمال نه ګڼي، او هیڅوك داسې نه کوي چې بې مثله لویه اختراع دې لږ وخت وروسته درهم برهم کړي، چې په دې پوره سوچ وکړې خامخا به دې نتیجې ته ورسېږې چې د لوی عالم خلاصه یې او لوی مقصد ته خلق شوی یې او لویه نه ختمیدونکې زندګي دې راروانه ده. دا لوی خالق ستارب د ټولو کمالاتو لرونکی یو الله ج دی. لوی مقصد د هغه عبادت او ارشادات منل دي. دا لویه زندګي آخرت ده. د دنیا مختصره زندګي یواځې د امتحان حال ده چې پرچې ورکړې نور ترې وځې. دا لوی مقصد تا ته لوې هستۍ پیغمبر راوړی، تشریح کړی. د لا وضاحت لپاره یې خپل وارثین موجود دي.

لیکوال: شیخ میا نورآغا حقانی

# کارمندان دولتی با معیار های اسلامی عیار شوند

مسوولان وزارت امربالمعروف نهی عن المنکر و سمع شکایات در دیدار با مسوولان وزارت های سرحدات و قبایل، اقتصاد، حوداث و کمیته ملی المپیك از آنان خواست، کارمندان ادارات شان را با معیار های اسلامی عیار سازند. مولوی محمد یحی عارف رئیس اصلاح و تربیت محتسبین گفت: وزارت امربالمعروف از بهر اینکه دامنه تطبیق توصیه های خویش در جامعه بیشتر شود در و نخستین گام، توصیه های اصلاحی و تربیتی اش را از کارمندان دولتی آغاز نمود.

وی گفت کارمندان دولتی الگوی جامعه اسلامی به تمام ملت بوده و اگر این کارمندان به توصیه های این وزارت عمل کرده و مطابق سنت، صورت و سیرت شان را برابر کنند، میزان تأثیر گزاری توصیه ها به طبقه عام مردم بیشتر خواهد شد. این مقام وزارت امربالمعروف؛ اصلاح و تربیت جامعه را کار مشترك تمام نهاد ها دانسته و از آنان خواست در تطبیق توصیه ها، همکاری جدی نمایند و تاکید کرد این وزارت از بهر اجرای امربالمعروف و نهی عن المنکر، از ادارات در آیندۀ نزدیك نظارت خواهند کرد.

در این دیدار مقامات ادارات ذیربط از تطبیق توصیه های وزارت امربالمعروف در ساحه کاری شان اطمینان داده گفتند: ادارات تحت امر شان فضای سالم کاری را برای زنان مساعد نموده و همواره کارمندان را وادار به ادای نماز جماعت کرده است و کسانی که از اوامر و توصیه های وزارت امربالمعروف ابا ورزند با آنان برخورد قانونی صورت خواهند گرفت. این در حالیست وزارت امربالمعروف به تمامی نهاد های دولتی دستور داد تا کارمندان طبقه ذکور و اناث فضای کاری جداگانه داشته و کارمندان طبقه ذکور مطابق سنت ریش مانده و سن قانونی را پوره کرده باشند و همچنان در توصیه نامه های این وزارت تذکر رفته است که مراجعین بدون حجاب اجازه حضور به نهاد های دولتی را نداشته و کارمندان نماز ها را با جماعت ادا نمایند.

# آغاز دروس ترجمه و تفسیر...

به سلسلۀ دروس دینی در مربوطات وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات، محترم شیخ القرآن والحدیث محمد خالد الحنفی سرپرست این وزارت، دورۀ ترجمه و تفسیر قرآنکریم را همزمان با آغاز ماه مبارك رمضان برای پرسونل و کارمندان این وزارت آغاز کردند. شیخ الحدیث والتفسیر محمد خالد الحنفی حین افتتاح این دوره گفت: این دروس به گونه دوامدار و به صورت کاملاً حضوری برگزار می‌شود وشرکت کنندگان در این دوره بعد از سپری نمودن دروس، در خصوص معانی و مفاهیم اساسی قرآنکریم آشنا شده و از مزایای معنوی آن در امورزندگی شان اسفادۀ بهینه خواهند نمود.

وی درباره شیوۀ تدریس دورۀ آموزشی گفت: روزانه در ساعت های مشخصی که مانع کار های رسمی کارمندان نگردد برنامه ترجمه و تفسیر قرآن کریم به پیش برده خواهد شد. وی همچنان خاطر نشان کرد که، در نظام اسلامی نیاز مبرم است تا کارمندان آن به مفاهیم و پیام های قرآن کریم آشنایی حاصل کنند. سرپرست وزارت امربالمعروف تصریح داشت: دورۀ آموزش ترجمه و تفسیر قرآن کریم همزمان با ماه مبارك رمضان شروع شده و به طور دوامدار ادامه خواهد داشت. گفتنی است که دروس یومیۀ کارمندان و کارکنان وزارت امربالمعروف از آغاز کار امارت اسلامی تا اکنون قبل از آغاز ساعت کار رسمی برای مدت نیم ساعت همچنان ادامه داشت و به گفتۀ سرپرست وزارت امربالمعروف، روند تدریس الی ختم ۳۰ جزء قرآن عظیم الشان به استعانت و مدد پروردگار عالمیان همچنان ادامه خواهند داشت.

گزارشگر: عبیدالرحمن

# د لغمان ولایت د امر بالعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اوریدلو ریاست فعالیتونه

لغمان ولایت چې له شپږو ولایتونو سره ګډې پولې لري، د مرکز په شمول پنځه ولسوالۍ لري، د امر بالمعروف، نهی عن المنکر مسـؤلينو د ياد ولايت د مرکز او ولسـواليو په نږدې او لرې پرتو سيمو کې له مسؤلينو ، مجاهدينو ، علماء کرامو ، قومي مشرانو او عام ولس سره {۲۴۳} ليدنې او ناستې ترسره کړې دي، چې د مسـؤلينو له لوري ورته د وخت او اړتيا په اساس په مختليفو موضوع ګانو ارزښتناکې ويناوې شوې دي او خپل وظيفوی مسـؤليت ته هڅول شـوي دي، چې لله الحمد ډير معروفات پلي شـوي او د ډيرو منکراتو مخنيوی شوی دی.

د ياد رياست محتسـبين د طرز العمل او رئيس د لارښوونې سره سم په مرکز او ولسواليو کی په څو برخو تقسيم شوي دي، يو تعداد محتسـبين ګمارل شوي، چې د ولايت اړوند رياستونو ته ورشي او خپل وظيفوي مسـوليت سرته ورسوي، چې په دغه برخه کی له ټولو رياستونو څخه ليدنه شوې او تر ډيرحده پوري معروفات پلي شوي او د منکراتو مخنيوی شوی دی.

همدارنګه هر رياست ته طرزالعمل ورکړل شـوی دی او ځينې محتسبين د نظامي برخو لپاره توظيف شوي لکه ، لوا ، امنـي قوماندانی ، دملي امنيت او د ولايت اړوند حوزو لپاره، څو هلته ورشي داسـلامي امارت لوايح او فرامين عملي کړي او دمجاهدينو اصلاحي تربيت وکړي، چی لله الحمد په دې برخه کې ډير کار شوی دی. ځينی محتسبين ګمارل شوي وو څو مسـاجدو ته لاړ شي او هلته له قومي مشرـانو او علماء کرامو سره دټولنې داصلاح په خاطر د معروفاتو د پلې کولو او د منکـراتو د مخنيوې په پار لازمې مشـورې او مجالس ترسره کړي، په ځانګړې ډول د جماعت پابندي کول، چی لله حمد په دغه بـرخه کـی له (۱۸۰) مسـاجدو څخه ليدنه شوي او دغه لړۍ جريان لري، او همدارنګه يو تعداد ملګري موظف شـوي و چې، دلغمان په ښار کی د ماذيګر او ماسپښـين لمونځونو ته خلك را دعوت کړي، چې اوس په يادو وختونو کې (۹۵) فيصده دوکانونه بند وي او خلك خريد او فروش نه کوي.

دغه راز د ياد رياست مسؤل د لغمان ولايت پنځو ولسواليو ته دوه ځله سفرونه کړي او د دغو ولسـواليو له مسولينو او محتسبينو سره يې لازمې مشورې او ناستې ترسره کړې دي، د معـروفاتو د پلي کولو او د منکـراتو د مخنوي په اړه ئـې ورته لازمې لارښـوونې کړي دي. چې ځينې يې په اجمالي ډول په لاندې ډول دي:

د يادونې وړ ده چې، د نوموړي رياست مسؤل دولايت په کچه په اداري، اضـطراري، دکډوالو او بيرته راستيندونکو چارو رياست، انکشـــــاف رياست او له مرکز څخه د ورسـپارل شـوو فرامينو د تطبيق په ناستو کې په منظم ډول ګډون کړی.

دياد رياست لخوا دچهلمتيو په جامع مسـجد کې يو لويه غونډه ترسره شـوه، چی په ياده غونډه کې داولې حوزې اړوند ټولو خطيبانو او پنځه وخته امامانو ګډون درلود، چی د ياد رياسـت لخوا د منکراتو د مخنيوې او د معروفات د پلي کولو ترڅنګ نظام الصـلات ، د اسلامي نظام ارزښت او په مساجدو کې د عقيدوي او اصلاحي درسونو په شروع کولو بحث او او هم د علما کرامو څخه لازمې مشـورې واخيستل شوې.

د ياد رياسـت لخوا د مرکز مهترلام د دوهمې حوزی له مجاهدينو سره ناسته وشوه، چې په کې د صورت او سيرت په شريعت بـرابـرول، قوم سره نـرمـي کول، په حوزه کـې د تربيتي درسـونو په شروع کولو بحث وشـو او په اخير کې د رياست لخوا ورته تحفته الدعات هم وويشل شو.

بل پلو د ياد رياسـت لخوا د اولې حوزې له مجاهدينو سره اصـلاحي مجلس ترسره شـو، چې په ياد مجلس کې په لاندې موضوعاتو مفصـل بحث وشو: اخلاص نيت، دامر اطاعت او دقوم سره ښه سلوك. او همدارنګه دعليشـنګ ولسوالی په انګړ کې له مسـولينو او مجاهدينو سره غونډه ترسره شوه، چې مسـولين او مجاهدين خپل وظيفوي مسؤليت ته وهڅول شول.

همداراز د لغمان ولايت دمهترلام ښار په جامع مسـجد کې له قومی مشرـانو، علماکرامو او اصنافو سره غونډه ترسره شـوه، چې داصـلاحي مجلس ترڅنګ په لاندي موضوعاتو هم موافقه وشوه:

۱، په ټول بازار کی به په يو وخت لمونځ اداکيږي.

۲، دلمانځه پر وخت کې به ټول بازار بند وي.

۳، که چيرې د چا دوکان خلاص و د شـارـوالي لخوا بنديږي.

دغه راز د لومـړۍ حوزی اړوند له ټولو علماکـرامو بالخصوص د بازار د مساجدو له امامانو سره مجلس وشو، چې د لازمو مشورو ترڅنګ د ماسپين او مازديګر لمانځه وختونه مقرر شـول او د منکراتو د مخنيوی او معروفاتو د پلي کولو په اړه ورته اړينې ويناوې وشوې.

دلغمان ولايت په لمړۍ پلې لواکې يوه لويه غونډه تـرسره شـوه، چې ياده غونډه کې په لاندې موضـوعاتو په بيان وشو:

۱، داسلامي نظام اهيمت.

۲، اخلاص نيت.

۳، دامر اطاعت

چې په اخير کې د اونييزو ضروري مسـايلو طرزالعمل ورکړل شو.

د لغمان ولايت دريمې او څلورمې حوزو له مجاهدينو سره اصلاحي مجلس وشوه، دوی ته د نيت په اخلاص، د امر په اطاعت، د خلکو سـزهيپه ښـه سـلوك کولو او د خپل منځي اتحاد په اړه خبې وشـوې او هم ورته د تحفته الدعات کتاب وويشل شو.

دا ډول د لغمان ولايت د امر بالمعروف رياسـت رئيس د پاسپورتونو د توزيع څخه ليدنه وکړه، دا چې په پاسپورتونو کې ازدحام ډيروو ، دنظم او دسپلين په اړه ورته طرزالعمل ترتيب شو او بيان شو.

دغه راز يادرئيس د پوهنې او معدن رياستونو له رئيسـانو اوکارمندانو سره غونډه وکړه، چـې په ياده غونډه کـې په لاندې موضوعاتو مفصل بحث وشو:

۱، د اينده نسل سالمه روزنه.

۲، نظام الصلات.

۳، خپل وظيفوی مکلفيت سرته رسول.

همدارنګه د دغه رياست مسؤلينو د لغما ن ولايت د لمړۍ پلي لوا له مسولينو سره ناست وکړه، له ناستی ورسته کنډك په کنډك له مجاهدينو څخه امتحانات واخستل شول.

دمحتسـبينو لخوا د صرافيانو په مارکيت کی له صرافانو او دوکاندارانو سره اصلاحي مجلس وشو، چې په ياد مجلس کې په لاندې موضوعاتو بحث وشو:

۱، په جماعت سره دلمانځه فضـليت او دلمونځ ضروري احکام زده کول.

۲، د سود کاروبار څخه ځانونه ساتل.

دارنګه د لغمان ولايت د مهترلام ښار ټولو قصـابانو سره غونډه ترسره شـوه چی، په ياده غونډه کې لاندې موضوعات بيان شول:

۱، د جماعت پابندي کول.

۲، دحلال رزق ګټل او دحرامو څخه د ځان سـاتلو فضليت.

دا ډول د ياد رياست لخوا د دوهمې حوزې اړوند د تکړيو د کلي په جامع مسـجد کې له علما کرامو او قومي مشرـانو سره يوه لويه غونډه ترسره شـوه، په دې غونډ کې علما وهڅول شول چې، د نوي نسـل سالم روزنه او په مسـاجدو کې درسـونه او ځوانانو ته عقيدوی درسـونه شروع کړي، قومي مشرـانو وهڅول شول چې، خپل اولادونه دزده کړې لپاره مساجدو ته وليږي.

داراز د لغمان ولايت له ټولو سـلمانيانو سره اصـلاحي مجلس وشـو، چې دوزارت لخو ا راغلې لارښـوونې ورته وواروول شـوې او ترڅنګ يې د کابل جلال اباد د هډې له مسولينو او دريورانو سره هم اصلاحي مجلس وشو چې، د وزارت لارښـوونې ورسره شريکې شـوې او دهډې د مسؤلينو له لوري ورسره د همکارۍ ژمنه وشوه.

# په ټول هيواد کې د محتسبينو لپاره روزنيز سمينارونه پيل شو

د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شـکايتونو اوريدو وزارت له لوري په ټول هيواد کې د محتسـبينو د روزنې او ظرفيت لوړونې لپاره روزنيز سـمينارونه پيل شوي. د دې سمينارونو موخه، محتسـبينو ته د دعوت د اصـولو ترڅنګ د امربالمعروف وزارت له لوري د وضـع کړل شـويو طرزالعملونه بيانول او همداشان د ياد وزارت له پاليسـۍ څخه د هغوی خبراوی دی. د يادو سيمنارونو پيل يوه اونۍ وړاندې د ننګرهار له مرکز څخه وشـو چې اووه ورځې يې دوام وکړ.

هيره دي نه وي چې تـر دې مهاله د مرکـز کابل په شـمول په څلورو ولايتونو کې ياد سـمينارونه پای ته ورسيدل.

دا په داسې حال کې دی چې په نورو ولايتونو کې به هم ډير زر ان شاءالله دغه ډول سيمينارونه پيل شي تر څو د محتسـبينو ظرفيت لوړ او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر چارې په سـمه توګه ترسره شي. د يادونې وړ ده چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت هڅه کوي تـر څو د ياد وزارت چارې په هغه توګه پرمخ بوزي چې څنګه شريعت لارښوونه کوي.

د دوهمې پاڼې پاتې برخه

## د امر بالمعروف وزارت اساسي...

د چا وېښـتان قيچي کړي او يا هم د خلکو په خصـوصي حريم کې مداخله وکړي، يوازې د منکراتو د مخنيوي په برخه کې بايد توصيې وکړي.

مولوي عارف په خپلو جلا، جلا ليدنو کـې له محتسبنيو سره، له هغوی څخه وغوښتل موټروانانو ته توصيه وکړي چې بې حجابه ښځې په موټر کې سپرې نه کړي، موټر کې سـندرې و نه غږوي او د لمانځه پايندي وکړي.

مولوي زارمحمد په خپلو مختلفو ليدنو کې د مرکزي قول اردو له منسـوبينو او د کورنيو چارو وزارت له کارکوونکو سره په کتنو کـې هغوی ته په خطاب کـې وويل: ټولو اشـغالګرو هېوادنو د اسـلامي امارت ماتولو لپاره سره لاس يو کـړی و، خو لله الحمد، تقدير تغير شو، مجاهدين بريالي شول، اشـغالګرو ماته وخوړه او له هېواد څخه بهر شـول. همداسې د ازالـې منکـراتو رئيس د ياد وزارت او قول اردو له کارکوونکو څخه وغوښـتل چې خپل صـورت او سيرت د سنتو مطابق برابر کړي او د سؤال پيداکېدو په صورت کې بايد علماؤ ته مراجعه وکړي.

همداشان د امربا‌المعروف او نهي عن المنکر وزارت د اطلاعاتو رياسـت د خلکو د پوهاوي په پار، چې د ځينو رسـنيو لخوا ناکره ضـد او نقيض خبرونه خپاره شـوي ول، د دې خبرونو د وضـاحت او د ناکره والې لپاره د رياست مطبوعاتي ټيم له ځينو علماؤ کرامو، موټـر چلوونکو، د هوټلونو مالکانو، او هټيوالو سره مصـاحبې وکړې، هغوی په خپلو مرکو کې يادې آوازې چې اسـلامي امارت په جبري ډول پر دوی احکام تطبيقوي رد کړې، هغوی خوښي وښوده چې امن دی او د اسلامي امارت ځواکونه ورسره ښـه چلند کوي، او ژمنه يې وکړه چې د امر باالمعـروف وزارت سر به پوره همکاري کوي.

د وزارت د رهبرۍ د هدايت پر اساس محتسـبينو د کابل ښار علاءالدين درې لارې له کسـبه کارانو سره وکتل او هغوی يـې په جماعت سره لمونځ کولو په راکړه، ورکړه کې صداقت، ريښـتينولی ته را وبلل، هغوی هم د امربالمعروف وزارت له دسـتوراتو څخه ملاتړ اعلان کړ او ويـې ويل چـې د منکـراتو له منځه وړلو او د ټولنې په اصـلاح کې به له امر بالمعروف وزارت سره همکاري کوي

دغه محتسبينو مجاهدينو ته په تدريس برسيره د ملي موزيم له مسـؤلينو د دارالامان چهار قلعې او د پل سـوخته موټرو تم ځای له موټروانانو سره وليدل ،هغوی ته د حجاب په اړه توصـيه او د دې امر په پلي کېدو کې د هغوی نقش بيان کړ

د يادونې وړ ده چې له شلو کلنو وروسته دغو کسـانو په کاري سـلحه کې اسـلامي قوانين تطبيقيږي، دوی خوښ بريښـي او وايي: افغانان غيرتمن خلك دي او تاريخي تجـربو دا ثابته کـړې ده، چـې دوی د پـرديو کلتور ندی منلی او پر وړاندې يې اقدام کړی دی،

همداشـان امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د شـکاياتو د اورېدلو په نوم يو معينيت د خلکو د سـتونزو د اورېدولو لپاره د دې وزارت په چوکاټ کې رامنځ ته کړ، تر څو خلك په آزاد ډول خپل شکايت ياد وزارت سره شريك کړي او صـلاحيت لرونکو مراجعو سره په همغږۍ د هغوی شکايتونو ته رسـيدنه وشي، د امربالمعـروف او نهـي عن المنکـر وزارت د اطلاعاتو رياسـت څو ځلې، د دې وزارت د اړيکو شـمېرې د رسـنيو له لارې خلکو سره شريکې کړې دي، تر څو مخربو کړيو لخوا د ستونزو را منځ کېدلو په صـورت کې شـکايت په لنډ وخت کې له وزارت سره شريك او رسيدنه ورته وشي.

## داعي بايد نبوي اخلاق...

همدا راز د اصلاح او روزنې رئس ديادې ولسـوالۍ محتسيبينو ته د امر بالمعروف سپارښتپانه او د دعوت اصول تشريح کړل.

ده وويل محتسبين بايد خپل سيرت او صورت د نبوي سـنت او ارشـاداتو مطابق جوړ کړي او له عامو خلکو سره دې په احسنه طريقه چلند وکړي.

همدا راز نوموړي له محتسـبينو وغوښتل چې لومړی ددعوت اصـول په ځان عملي کړي او بيا يې نورو ته سپارښتنه وکړي. ده همداراز له محتسـبينو هيله څرګنده کړه چې په ټولنه کې د اختلافاتو لامل نشي او هم دې کوښـښ وکړي چې په معاشره کې شـته اختلافات له منځه يوسي.

ديادې ناسـتې په پای کې مولوي عارف د داعي صـفاتو ته په اشـارې سر ه وويل چې داعي بايد نبوي اخلاق خپل کړي څو خپلو موخو ته په اسـاني سره واصل شي.

راپورتر: کرامت الله کاوون

Islahul
Ummah
2weekly

د امتیاز خاوند:
د افغانستان اسلامي امارت د امربالمعروف،
نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت
د اړیکې شمېره:
۰۲۰۲۹۳۶۳۸۱
Email:
Islahul.ummah1443@gmail.com

درک: شهر نو د ایمر جنسي روغتون ترڅنګ امربالمعروف وزارت
کابل - افغانستان

د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - ۲۰۲۱ میلادي | د چاپ نېټه: رمضان المبارک - ، کال ۱۴۴۳ هجري قمري | لومړی ګڼه

## برگزاری نمازهای طلب باران رحمت در ولایات مختلف کشور

محتسبین وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات از بهر مناجات به دربار خداوند و طلب باران در ولایات مختلف طی محافل باشکوه؛ اشتراک و سخنرانی نمودند.

بر اساس گزارش ها، بسیاری از مردم افغانستان در پیوند به نگرانی از ادامه خشکسالی در بخش های مختلف کشور، نماز های طلب باران برگزار کردند.

به تازگی باشنده‌گان ولایت های بدخشان، بلخ، تخار، کندز، ننگرهار، بغلان، کابل و سایر ولایات به دشت و بیابان ها حاضر شده و توبه و استغفار نموده و خواهان نزول باران رحمت شدند.

محتسبین وزارت امربالمعروف در بیشتر نماز های طلب باران که در ولایات برگزار شده بود اشتراک و پیرامون چگونگی جلوگیری از منکرات سخنرانی نمودند.

آنان ضمن یادآوری داستان حضرت موسی و چگونگی نزول باران رحمت افزودند: موجودیت گناهان بیشتر باعث قطع باران از درگاه الهی شده است و بندگان گناه گار از برای اینکه باران رحمت شامل حال شان گردد گناهان را ترک نموده و به درگاه خداوند متعال با انجام دادن اعمال صالحه رجوع نمایند.

محتسبین همچنان افزودند: وزارت امربالمعروف در تمامی بخش های کشور برای جلوگیری از منکرات؛ محتسبین را فرستاده تا مردم را دعوت به معروفات و نهی از منکرات نمایند و انجام امربالمعروف ونهی عن المنکر به تمام اتباع کشور واجب بوده و مردم باید برای اقامه معروفات و نهی از منکرات، وزارت امربالمعروف را همکاری نمایند تا مسوولیت دینی شان اداء گردد.

## محتسبینو ته ځانګړی یونیفورم وویشل شو



د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اوریدو وزارت له لوري په ټول هیواد کې د محتسبینو لپاره ځانګړی یونیفورم انتخاب شو. دغه یونیفورم چې سپین رنګ لري او محتسبین به یې عموماً د دعوت په موخه د وتلو په وخت استفاده کوي، څو د محتسبینو او نورو مسؤلینو ترمنځ توپیر وشي. دغه یونیفورم د یاد وزارت له وړاندیز او د امیر المؤمنین له تایید وروسته د محتسبینو لپاره وضع شو او هغوی اړ دي چې د دعوت په وخت کې ترې استفاده وکړي. دغه یونیفورم د لومړي ځل لپاره د کابل ښار یوویشتمې حوزې محتسبینو ته وویشل شو او ترې استفاده وشوه. هیله دې نه وي چې په نږدې راتلونکې کې به ټول هیواد کې محتسبینو ته یاد یونیفور توزیع شي.

## مخلص؛ محتسبین نه شي کولی کورونو ته داخل شي

د امربالمعروف او نهي عن المنکر اوشکایتونو اوریدو وزارت له لوري د مرکز او ولسوالیو محتسبینو ته د دعوت او اصولو په پار سمینار ورکړل شو. غونډې ته محب الله مخلص وویل: محتسبین دې په کارونو کې له اخلاصه کار واخلي او مادیاتو ته دې لومړیتوب نه ورکوي او زیاته یې کړه هدف مو باید د الله ج رضا تر لاسه کول وي. مولوي محب الله وویل: محتسبین نه شي کولی د خلکو کورونو ته داخل شي او په خبره یې محتسبین له کورونو بهر هم له منکراتو منع کولی شي.

نوموړي زیاته کړه: محتسبین دې ورزشکارانو ته د عورت د ستر د پټولو تر څنګ د لمانځه کولو سپارښتنه وکړي او هغوی ته د نور مزاحمت کولو حق نه لري. هغه همدارنګه پر محتسبینو غږوکړ چې په خپلو کارونو کې له مصلحت کار واخلئ او له اجنبي او ذمي کسانو سره د منکراتو په صورت کې جزایي عمل ترسره کولی شئ.

یاد سمینار ته د ښوونې او روزنې رئیس مولوي یحی وویل: هغوی چې دعوت کوي لومړی باید ځانونه پر دعوت او د هغو پر اصولو پوه کړي او په خبره یې هغوی چې د دعوت په اصولو پوه نه وي د اصلاح پر ځای د فساد لامل کیږي. هغه زیاته کړه: په اصلاحي کارونو کې له انحصاریت ډډه وکړئ او د خلکو د یووالي او اصلاح له پاره کار وکړئ. هغه پر محتسبینو غږوکړ چې د سیمې مشران خپل کړئ تر څو په سیمو او ټولنه کې دعوت اغېز لرونکی شي او په خبره یې: "د حق داعي باید په خپل دعوتي بهیر کې له قلم څخه کار واخلي او یوازې شفاهي خبرې د دعوت نیمګړتیا ده."

مولوي شریف الله حقاني وویل: رسنۍ دې هغه کورني او بهرني سریالونه او فلمونه خپاره نه کړي چې پردی کلتور خپروي، هغه همدارنګه وویل: په رسنیو کې ښځینه کارکونکې دې شرعي حجاب مراعت کړي.

مولوي رحیم الله وویل: د حوزو له لوري چې کوم احکام خلکو ته ورکړل شوي نوي سلنه پلي شوي او ګټور تمام شوي دي.

خبریال: کرامت الله کاوون

## کنړ: دمحتسبینو لپاره روزنیز سمینار پای ته ورسېد

دکنړ ولایت دمحتسبینو لپاره د امر بالمعروف نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدو وزارت له لوري اووه ورځنی سمینار پیل شوی و چې د یو لړ مراسیمو په ترڅ کې پای ته ورسېد. یاد سمینار چې اووه ورځې وړاندې پیل شوی و موخه یې د محتسبینو هر اړخیزه روزنه او هغوی ته خپل کاري طرزالعمل او د وزارت پالیسي-بیانول وه. د سمینار د ختمېدو په مورد جوړه شوې ناسته کې د امر بالمعروف نهی عن المنکر او شکاتونو اورېدو وزارت د اصلاح او روزنې رئیس مولوي محمد یحی عارف او د یاد سمینار استادانو هر یو شیخ امیر جان ثاقب، شیخ محمد ثواب حقاني او مفتي عبدلوهاب هم ګډون درلود چې ټولو په خپل وارسره د یاد سمینار د ارزښت او موخو تر څنګ له محتسبینو وغوښتل چې په سمینار کې د وړاندې شویو اصلو متابعت وکړي او خپل مسؤلیت ته چې څنګه ښایي هماغسې ژمن واوسي. همدا راز مولوي یحی عارف دسمینار له وړاندې کوونکو استادانو او شیخانو د مننې تر څنګ له محتسبینو په ټینګار سره غوښتنه وکړه چې په ملکي او نظامي برخه کې دې دامر بالمعروف د لایحې مطابق کړنې ترسره کړي څو مو خپله دنده کما حقهُ ادا کړې وي. دا په داسې حال کې ده چې بالمعروف دری اوونۍ کیږي چې په ټول هیواد کې د امربالمعروف نهی عن المنکر وزارت له لوري د محتسبینو دروزنې سمینارونه دایرېږي چې دا ددې لړۍ دریم سمینار وو.

## مولوي رازمحمد حامد: بې حجابه ښځه هیڅ کوم شخصي او دولتي ارګان ته نشي داخلېدای

د امربالمعروف نهي عن المنکراوشکایاتو اورېدلو وزارت د ازاله منکرات رئیس مولوي رازمحمد حامد دکابل ښار له ځینو حوزو اوشخصي تصدیو لیدنه وکړه.

په یاده لیدنه کې مولوي رازمحمد دکابل ښار اړوند ځلورمې او لسمې حوزې او شخص تصدیو مسُولینو ته په وینا کې وویل: هر دولت ځانګړي قوانین لري چې حجاب زموږ د قانون یوه برخه ده، او په پلي کولو کې یې ټول مسؤل یو. ده همدا راز له مسؤلینو غوښتنه وکړه چې لومړی دې په خپلو لیکو کې اصلاحات راوستل شي، کم عمره او بې ږیرې هلکان دې له نظامي لیکو څخه وایستل شي او هغوی ته دې د درسونو زمینه برابره شي.

نوموړي همدارنګه زیاته کړه: چې بې حجابه ښځې هیڅ کوم شخصي او دولتي ارګان ته نشي داخلېدای. ده ټینګار وکړ چې په کومو هوټلونو اورستورانتونو کې چې د نجونو او هلکانو لخوا قیلون وهل کیږي، مخه ونیول شي، ځکه دایو ناوړه اوقبیح عمل ده.

دلیدنې په پای کې ښاغلي مولوي رازمحمد له ټولو مسؤلینو اوشخص تصدیو مالکانو څخه د یادو قوانینو په پلي کولو کې دهمکاري غوښتنه وکړه چې هغوی هم ورته د هر ډول مرستې ډاډ ورکړ.

### مولوي محمد یحیی عارف: داعي باید نبوي اخلاق خپل کړي

دامر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایاتونو اورېدلو وزارت د اصلاح او روزنې رئس مولوي محمد یحیی عارف دکابل اړوند میر بچه کوټ ولسوالۍ محتسبینو سره ولیدل.

په یاده لیدنه کې مولوي یحیی عارف دجهاد موخو ته په اشارې سره وویل چې داسلامي نظام په راتګ سره لازمه ده چې اسلامي احکام په بشپړ ډول عملي، او خلکو ته په اړوند موضوعاتو کې عامه پوهاوی ورکړل شي.

همدا راز د اصلاح او روزنې رئس دیادې ولسوالۍ محتسبینو ته د امر بالمعروف سپارښتپانه او د دعوت اصول تشریح کړل.

پاتې په ۲ مخ